AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان ۲۰۲۴/۰۲/۰۴

# د مینې نازکتیا

یوه خندانه او موسکه نجلۍ څکه ناڅاپه په ښکلي موسم کې بې انتها خفه کیږي، چې یو چا تېر کال په همدې موسم کې ورته ویلي وي: «زه درسره مینه لرم!»

یو هلک په کوم ښار کې د ځانګړي ریسټورانټ په خاص ښوکی کیني او تر ناوخته سګریټ وهي؛ څکه چې دلته یې له یو چا سره وروستی ملاقات کړی و.

یوه نوي ناوې د خپل میړناک خاوند له سینې سره لګېدلې؛ په داسې چا پسې اوښکې تویوي چې یو وخت پرې مئینه وه.

د دفتر مشر څکه یوه ذهینه او ښکلې نجلۍ د انټرویو پر مهال ردوي، چې یو مهال د هغې هم شکلې نجلۍ بې وفایي ورسره کړې وه.

یوه ښځه چې هره ورځ خپل زوی ښوونځي ته بوځي؛ د زده کوونکو په منځ کې هغه هلک ته هم ګوري، چې یو وخت یې پلار د دې مخ په لاسونو کې نیولی و او ورته ویلي یې و: زموږ د زوی پوزه به ستا په څیر او سترګې زما غوندې وي.

یو ډېر پوه هلک له دې امله بهر ملک ته کډه وړي، چې اوس یې ښار ته هغه شوخه شنګه نجلۍ راغلې چې یو مهال یې ټولګیواله وه. خو ده له شدیدې مینې وروسته هم ورته اظهار ونکړ.

یوه بوډۍ ښځه له خپلو اولادونو او کور والاؤ پټ د صندوق له منځه څو زاړه لیکونه را اخلي، تر وروستي ځل لوستلو وروسته یې سوځوي او په چیغو چیغو ژاړي.

یو بوډا سړی صرف په دې سبب خپل ګلابي رنګه څادر له کلونو راهیسې سنبال ساتي، چې ډېر مخکې یوې نجلۍ له خپلې سرې لوپټې/ ټیکري سره یوځای مینځلی و.

اه مینې... ته د ټولو له پاره اسانه نه یې!

ژباړه: سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ